Bundesamt
für Migration
und Flüchtlinge

RÜCK KEHR

# وطن ته په خپله خوښه
# د بیرته ستنیدلو په هکله معلومات

PASCHTU

## که چیرې ستاسو د پناه غوښتنې درخواست رد شي ، نوبیا څه پیښیږي؟

ستاسو **د پناه غوښتنې د درخواست** د ردیدلو د اطلاع سره یو ځای، یوه ټاکلې موده د **مُهلت** په توګه درته ښودل کیږي چه تر دې ټاکلې نیټې به تاسې له دې هیواد څخه وځی. دا مُهلت معمولاً **له یوې اونۍ نه نیولې تر ۳۰ ورځو پورې وي .** **که تاسې په دې ټاکلې مودې کې د ننه په خپله خوښه له دغه هیواده ونه وځۍ نو کیدای شي چه خپل وطن ته په اجباري توګه بیرته ستانه کړای شی** (جبري بیرته ستنول) . د اجباري بیرته ستنولو لګښت به تاسې په خپله ورکوی او تر ډیرو کلونو پورې به تاسې ته ممکنه نه وي چه په قانوني ډول آلمان او یا د اروپاپي تولنې کوم بل غړي هیواد ته سفر وکړئ (ممنوع الدخول) . د اقامت د قانوني او اعتبار وړ اسنادو له درلودو پرته تاسې په آلمان کې نه شی اوسیدلی : هره ګړی باید د پولیسو له خوا نیول کیدل او بیرته خپل وطن ته په اجباری توګه استول کیدل، ممکن وګڼئ . **نو مخکې له دی چه ستاسو د اقامت د پای ته رسولو په اړوند اقدام وشي ، په خپله خوښه د بیرته ستنیدا د امکان څخه ګټه پورته کړی .**

## د آلمان دولت ، خپل وطن ته په خپله خوښه د بیرته ستنیدو حمایه او ملاتړ کوي

د بیرته تګ او بیا ادغام موجود پروګرامونه ډول، ډول مرستې وړاندې کوي ، د بیلګې په توګه که چیرې تاسې پیسې ونلری چه د بیرته تګ مصارف مو خپله ورکړی . په ځینو مشخصو هیوادنو کی په خپله خوښه بیرته ستنیدونکو د پاره د مرستی حمایوی امکانات شته تر څو په خپل وطن کی د ژوند بیا له سره پیلول ورته آسانه شي . د بیرته ستنیدلو په برخه کې ملاتړ تاسې ته دا فرصت برابروي چه خپل بیرته تګ په خپل اختیار پلان کړی او د لازمی پاملرنې سره ورته چمتووالی ونیسئ .

## تاسې کومې مرستې تر لاسه کولای شئ؟

**د بیرته ستنیدو پروګرام** له لاری تاسی ته په خپله خوښه د بیرته ستنیدلو په اړوند انتظامي او مالي مرستې وړاندې کیږي .

- د سفر د لګښتونو په غاړه اخیستل
- د پام وړ مالي مرسته درسره کول
- د طبی/ روغتیایي مصارفو په غاړه اخیستل


**د بیا ادغام دول، ډول پروګرامونه** تاسو سره په خپل وطن کې د ژوند د نوی پیل په برخه کې مرسته کولی شي.

- ستاسې د مسلکي وړتیا د لوړولو په اړوند اقدامات
- د کار موندنې په برخه کې مرسته
- د یو کوچني شرکت / تجارت د شروع کولو په برخه کې مرسته
- د کور او استوګنې په برخه کې مرسته
- په ټولنیزو او روغتیایي چارو کې مشوره او مرسته



## نور معلومات چیرته تر لاسه کولاې شی؟

په خپله خوښه د بیرته ستنیدو په هکله په معلوماتي پورتال انټرنتي پاڼه **www.ReturningfromGermany.de** باندې به تاسو د اصلي هیوادونو او همدارنګه د بیرته ستنیدا او بیا ادغام په هکله معلومات تر لاسه کړئ . د پاڼې د مرکزی لټون د امکان څخه په استفادی سره کولی شی د بیرته ستنیدونکو له پاره د مشورتي دفتر آدرس ومومئ چه تر ټولو درته نږدې وي . له دې نه علاوه تاسې کولی شی چه د مهاجرت او پناه غوښتونکو د فدرالي اداري سره د بیرته ستنیدني ځانګړې شمیرې **+۴۹ ۹۱۱۹۴۳۰** له لاری په تماس کې شی .



## د بیرته ستنیدا مشورتی دفتر تاسې سره مرسته کوي

که لیواله یاست چه په خپله خوښه بیرته خپل وطن ته وروگرځئ ،
د بیرته ستنیدلو مشورتی دفتر ته د خپلو ټولو پوښتنو د مطرح کولو
لپاره مراجعه کولئ شئ .

- د بیرته تگ په هکله مشوره وړیا ، محرم او انفرادې ده .
- دا به له دې هیواده د وتلو د سفر په انتظام او د چمتووالې په برخه کې، او همدارنگه د حمایي او مالې ملاتړ د درخواستونو او نورو ممکنو مرستو د غوښتنلیکونو د تنظیم او وړاندې کولو په برخه کې تاسو سره کمک وکړي .
- همدا راز که تاسې د سفر یو معتبر سند نه لرئ نو د پاسپورت د بدیل سند په تر لاسه کولو کې مرسته درسره کیږي .
- د مشورتی خبرو بر مهال د یوه ژباړن او یا یوې ژباړنې شتون په نظر کې نیول شوئ ، تر څو تاسی په ټولو خبرو پوره پوه شئ. خو تاسوخپله هم د بیرته ستنیدا مشورتي دفتر ته د ژباړې لپاره یو څوک د ځان سره راوستلی شئ.

## آیا په خپله خوښه بیرته ستنیدل هر کله شوني دي؟

په خپله خوښه بیرته ستنیدل هغو پناه غوښتونکو ته، چه د پناه غوښتنې پروسه یې لا نه وي بشپړه شوې او هم هغو خلکو ته چه
لا د مخه یې د اقامت جواز تر لاسه کړئ وې نوې چانسونه او د راتلونکې لپاره نوي فرصتونه پرانیزي .

**د بیرته ستنیدلو مشورتي دفتر ته تاسې د خپلې پناه غوښتنې د پروسې په جریان کې هم مراجعه کولای شئ . دا کار به ستاسو د پناه غوښتنې د پروسې پر نتایجو هیڅ ډول تاثیر ونلري .**




**آیا په خپله خوښه د بیرته ستنیدنې لیواله یې؟ د بیرته ستنیدو مشورتې دفتر سره، چه درته نږدې وي د ملاقات وخت وټاکئ .**

په داوطلبانه توگه د بیرته ستنیدو په خاطر د مرستې د مستحق کیدو هیڅ قانونې حق نشته . هر چاته یوازې یو ځل د مرستې ورکړه ممکنه ده.
آلمان ته د بیا راتللو او یا هم د آلمان څخه د نه وتلو په صورت کې د ورکړل شوو مرستو د بیرته مستردولو مطالبه کیدای شی .